عبد الحکیم سامع ۲۰۱۲/۱۱/۰۳

# د «ډیورنډ کرښه او روستی پراختیاوې» پر لیکنې څو یادونې!

د محترم « سر لوڅ مرادزی» په لیکنه کښې، چه د «افغان جرمن آنلاین پورتال» کښې، په ۳۱/۱۰/ ۲۰۱۲نیټه خپره سوی، ځینې «ټکې» می تر سترګو لاندې سوی، چه زه یې دی ته وهڅولم، تر څو لنډې یادونې وکړم. تر هر څه د مخه غواړم یوه فرعی موضوع ته هم اشاره وکړم چه د دوی په لیکنو کښې هم داسې یو «سبک» وینم، چه ممکن لکه یو شمیر نورو وطنوالو غوندې، خپله خاصه «ژبه» ولرې. خدای دې وکړی چه «غلط فهمی» و نسی. ما پښتو لیکنه نږدې ۵۰ کاله پخوا، چه فکر کوم، په هغه زمانه کې لا یو «ډول» «ستندرده» ژبه به مروجه وه، زده کړې. خو اوس لیدل کیږی، چه ځینې «محلی» او یا نور«نوی بدلون» راوړل لاره موندلې. دا د دوی پوره حق دی. خو که اجازه را کړی، د دوی لیکل سوی کلمه: «روستی»، چه په سرلیک کښې راغلی ده، په خپللیک کی، د «وروستی» په ډول ولیکم او ماته په درې ژبه «اخیر» یا «آخری» معنی لری. که می اشتباه کړې وی، تر هر څه د مخه «بخښنه» غواړم. د مثال په توګه، زمونږ د وطن «ګندنه»، چه په «پاکستان» او یا په «پیښاور» کې، ورباندې دهغه «محل پښتنو»، زما د معلومات پر بنسټ، د «مهاجرو سابه» نوم ایښی ، نه غواړم چه زه هم دا کلمه په ژبه راوړم.

له بلې خوا څخه د محترم لیکوال توجه دې ته را جلبول غواړم چه د اصطلاحاتو او «مفاهیمو» د کارولو په وخت کښې هم، تر دې یو څه ډیر پام ولرې. دوی د «کرښه۰۰۰» کلمه د «پراختیاوی» سره، «اړیکه» ورکړی. خو په متن کښې، دوی ددې اصطلاح څخه د مساحت او یا «وسعت»، چه «پراختیا» مفهوم لری، د معنې په ډول، کار اخیستی. دلیکوال معلومات جالب او دقیق دی، چه پرمتن باندې اعتراض نسته. دوی د یو تعداد نورو لیکوالانو په توپیر د « ترهګرو» په باب د خارجی قواو نقش، دقیق بیانوی. خو پدې باید پوه شو چه پدې سیمه کښې، په تیره بیا، پاکستان او «ایران»، چه د افغانستان د تنظیمونو او «مذهبی» ډلو سره، «ښکاره» او «پټ» اړیکې ساتلې، ددوی، دولتونه «دوه مخی» سیاست بر مخ بیایی. د یوې خوا څخه «ځان» د «ترهګرو» پر ضد بولی، له بلې خوا څخه هر یو یې په خپله، ځانګړی تعریف لری، اود خپل باندنی سیاست، په لاره کښې عمل کوی او د و سیلې په توګه ورځینې کار اخلی.

پاکستان دولت ته، لکه چه نور لیکونکی هم «لیکلی»، د «پاکستانی طالب» او «افغانی طالب» تر نامه لاندې او د هغو د پلویانو تر مینځ فرق وینی.که څه هم د دواړو «ایدیولوژیک» منبع او کړن لاره یوه ده، خو که «د افغانی طالب» تر نامه لاندې، په افغانستان کی چه د «افراطی مذهبی رژیم» جوړیدل یې موخه ده، نو دوی یې «ملاتړ» کوی. او که دغه «رژیم» د جوړیدو «موخه» په «پاکستان» کې، کومه کړن لاره وی، نو دوی ورسره «مخالف» دی. پدې توګه «ترهګری» د وسیلې په توګه، ددوی د خوا څخه کار اخستل کیږی. په همدې ډول هم د نورو «ډلو» سره، همدغه اصول په نظر کښې نیسی. د افغانستان د صلحې په ګټه به دا وی چه افغانان دی لمړی د خپلې خاوری حادثو ته زیاته پاملرنه ولری او دملی قواو ترمینځ د تفاهم او د خبرو او د «فکرونو» د «تبادلې» امکانات برابر کړی.

لیکوال خپله لیکنه پدې کلمو« د ډیورنډ کرښې د تایید په اړه د څو امریکایي چارواکو څرګندونې چې افغان دولت.. .» پیل کړی. البته ددې «دیپلوماتانو» اظهارات، د امریکی او یا د نورو په شان چه همدا رنګه تصور لری دومره نوی نده، چه ډیرو وربانده ډول ډول تبصری کړی. د دی«دیپلوماتانو»، «یادونی»، چه محترم لیکوال«... د ډیورنډ کرښې د تایید...» مفهوم به هم تری اخیستی وی، داسې وزنه نلری، چه ګواکی، پدی «څرګندونو» باندی موضوع حل سوی وی او یا «مشروعیت» تر لاسه کړی وی. دلته هغه «کیسه» ډیر سر خوری چه وایی که « چا ته وویل سوه، چه سپی دی غوږ یووړ! »، نو معقوله به څه وی؟، آیا ښه به نه وی، چه لمړی لاس پر غوږ یوسی، اوکله چه و پوهید، نو بل قدم ورپسی واخلی.

دا امکان هم موجود دی، چه د پاکستان واکداران، د امریکی ددی «دیپلوماتانو» د «افادی» څخه، د خپلې ټولنې د عامه «اذهانو» د «غولولو» د پاره، به په خپله ګټه د اخیستو«هڅه» وکړی، خوکومی نتیجی ته نسی رسیدلای، دا ځکه چه دا «کرښه»، لکه څنګه چه محترم لیکوال هم لیکلی:«... د ۱۱۹ کالو په دوران کې له حکومتونو سربیره حتی یوافغان هم دا کرښه نده منلې. له دې کرښې سره چلند افغانانوته د ملي ګټوسربیره د ملي ننګ او ناموس په حیث ګرځیدلې...»، د لمړی ورځې د «طرحې» را پدې خوا، د یوه «نا حله» موضوع په توګه، د دو

«قلمرونو» تر مینځ پاته وه او پاته ده. حل یې «مشروعیت» ته اړتیا لري. پدې «مشروعیت» کښې د هغو «خلګو» لویه برخه او «اصلي» برخه پرته ده، چه دا « کرښه» د دوی د بېلولو، په موخه په طرحه سوې وي، خو دوی بېلېدل ندي منلي او نه به یې هم ومني.

دا چه د «ډیورند کرښه»، تر اوسه پورې یوه نا حله موضوع وه او ده، غواړم د ګرانو لوستونکو پاملرنه، یو «راپور» ته واړوم،چه د یوه افغان، «څېرونکي»، د «دوکتور محمد اکبر یوسفي» په نوم، لیکل سوی. دا لیکنه په دري ژبه ده او تر دې سرلیک لاندې: « دیدار رسمی سردار محمد داوود صدر اعظم ازانگلستان!»(۱۹۶۱م)، د افغان «جرمن آنلاین» په «پورټال» کښې، په ۲۰۱۲/۰۳/۰۸نیټه په دوو برخو کې خپور شوی.

ددې سفر په ترځ کښې د افغانستان د پاچاهۍ صدر اعظم، په یوه مطبوعاتي کنفراس کښې، د «ژورنالستانو» د پوښتنو په ځواب کښې په یوه ځای کښې داسې ویلي:
«موضوع عمدهٔ صحبت های ما را مسائل بین المللی، مسائل مو رد علاقهٔ هر دو جانب و هم چنان مسئله پشتونی تشکیل می داده است.» په بل ځای کښې بیا داسې لولو:« در جواب به سؤال ژورنالیست دیگر از«مطبوعات متحد بین المللی»، در مورد اینکه آیا حکومت برتانیه درین رابطه کدام پیشنهادی پیشکش نموده و یا کدام وساطتی رابرای حل این مسئله، مطرح داشته است.؟
صدر اعظم پادشاهی افغانستان، سردار محمد داؤد بجواب گفته اند:« رفتارو برخورد دوستان برتانوی ما تغییر ننموده است. ایشان از موقفی نمایندگی می کنند، که لازم است، افغانستان و پاکستان این مسئله را بحیث دو کشور دارای حاکمیت، حل نمایند»
بجواب سؤال خبر نگار «بی. بی. سی.»، که پرسیده است، آیا امکانی وجود دارد که افغانستان و پاکستان، بیک تفاهم در مورد این مسئله برسند.
صدر اعظم افغانستان به جواب چنین می پردازد:« افغانستان به مذاکرات مبتنی بر نیات نیک معتقد است. برین دلیل است که همواره راه مذاکرات صلح آمیز را با پاکستان درین مسئله جست و جو نموده است. لیکن با تأسف تلاش های ما بی نتیجه مانده است، تا زمانیکه پاکستان امتناع ورزد، که واقعیت های تاریخی را برسمیت بشناسد، هیچگونه امید رسیدن به تفاهم متصور نمی باشد. در تحت شرایط موجود کنونی، حکومت پاکستان تکلیف را بخود روا نمی دارد، که به اصل ماهیت مسئلهٔ پشتونستان پی ببرد. من می خواهم موقف ما را روشن سازم، به نسبت اینکه در مورد، به طرف مقابل، بطور مبالغه آمیز، توجه مطبوعات جلب گردیده است.

از دید تاریخی، پاکستان یک ساحهٔ خاکی است که از افغانستان در دوران تسلط استعماربرتانوی جدا ساخته شده است. حکومت پاکستان مدعی است، که پشتون ها با حاکمیت آنها راضی هستند. در صورتیکه این امر درست باشد، پس باید به مردم پشتون امکان داده شود، تا خواسته های خود را آزادانه بزبان آورند. این نه باعدالت و نه با تعاملات بین المللی مغایر بوده می تواند.» (همانجا)

څرنګه چه دا سفر په یوه خاصه مرحله کښې صورت مونډلی، نو د آسانتیا په خاطر ددې «راپور» د «دواړو» برخو «لینک»، د درونو لوستونکو د پاره ایږدم، چه که چیرې وغواړی، نو د دې «لینک»،په مرسته، بشپړ «راپور» ولوستلای سي.

http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/yosufi_ma_didare_rasmi_sardar_daoudkhan_01.pdf

http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/yosufi_ma_didare_rasmi_sardar_daoudkhan_02.pdf

او همدا رنګه د « مسئلهٔ پشتونستان در مطبوعات برتانیه» «لینک» هم چه پدې اړوند، تاریخي معلومات وجود لري، وړاندې کیږي.

http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/a_yusufi_pashtunistan.pdf

پدې هم د دنیا تاریخ پوهان او «دیپلوماتان»، د ډېره وخته پوهیدل او اوس هم پوهیږي، چه د «ډیورند کرښه»هیڅکله دایمي حل ته نه وه رسیدلی،اواوس هم حل نده. دا چه د هر «ملک» «دیپلومات» هغه څه وایي، چه د «حکومت په پالیسی» کې یې شامل وي، هم هر چاته معلومه ده. دا چه د هغه وخته څخه چه همدا «پاکستان»، په ۱۹۴۷م کال کښې جوړ سوی او بیا د «امریکې» او نورو غربي هیوادونو، په «نظامي تړونونو» کښې شامل


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سوی، حتماً دا «رسمیت پیژندنه»، به د دوی تر مینځ ذکر سوی وی، خو د افغانستان د پاچاهی دولت دریځونه هم، د نړیوال سندونو کښی، تاریخی «ثبت» لری.
د ۱۹۳۳م څخه تر ۱۹۷۳م پوری پاچاهی نظام د کوم خاص «بحران» سره مخامخ نه وو، چه د پاکستان سره د «ډیورند د کرښی» د حل د پاره، د «مذاکری» مخه نیولی وای. خو لکه څنګه چه دپاچاهی صدر اعظم بیان کړی، پاکستان عمل ندی کړی. اوس هم، تر څو چه «بحران» او جنګ «پای» ته نه وی رسیدلی، نو د یوه دوه «اړخیزی» مشروع حل ته امکان، نه لیدل کیږی، دا قومونه بیلیدل نه منی. ځواکونو به وکولای سی، چه ددوی تر مینځ نوری «کرښی» هم وباسی، خو هغه «مشروعیت»، چه دوی یی و نه غواړی، هیڅ څوک به ترلاسه نکړی.

زمونږنور وطنوال هم د دغو «ډیپلوماتو» د اظهاراتو په باب خپلی څرګندونی او عکس العملونه ښودلی او«لیکنی کړی دی». دلته باید ټولو ته د پام وړ وی، چه په داسی یوه حیاتی او ملی - ټولنیز موضوع باندی، د تبلیغاتی، احساساتی او نورو جهاتو باندی د ارزونی پر مهال فرق وسی.

پدی نړی کښی ډیري نمونی سته، چه د «جګړو» په وخت کښی، د «زور» او «قوت» په تناسب، «کرښی» او یا«خطونه» د «برچی» د «څوکی» په وسیله، رسم سوی دی. د لسیزو او یا زیاته موده کښی، «ملتونه» او «حتی» کورنی، د مختلفو «سیاسی – اداری» حاکمیتونو، تر اثر لاندی راغلی. خو کله چه، د اصلی او دایمی حل لاره سنجول کیږی، او د حل «پروسه» پیل کیږی، چه ځانته خاص شرایط غواړی، نو فقط او فقط د «دو خواوو» د «متقابل» رضایت او موافقی پر بسنټ او د «سیاسی مذاکری» د لاری نتیجی ته رسیدلای سی. په لمړی قدم کښی دا مهمه نده، چه دا کرښه څه وخت او د چا له خوا «طرحه» سوی. مهمه داده، چه ددی کرښی په دواړو خواوو کښی، د «اوسیدونکو» پر ژوند څه ډول اثر اچولی او د دواړو خواوو ټولنه، دی «کرښی» ته، په کومه سترګه ګوری، اود حل لاره څنګه غواړی، چه دلته د «مشروعیت» اصل ضرور دی، بیله دی څخه، چه د بیګانه «مغرضانه» نفوذ او یا د نورو قدرتونو فشار او «خندونه» پکښی اعیزه ولری.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولئ